Overall,question is well attempted, but there are some things on which you need to work
* Introduction heading
*Hameed Baba early life heading
*Hameed Baba poetry heading
*Increase the numbers of "sheets"
Conclusion headings.

/ /202 Day:

سوال: د حمید بابا په شاعرۍ کښې سوز او ګداز
خصوصیات د معنی و نازک خیالۍ په
تړاو کښې څرګند کړئ

حمید بابا د نازک خیالۍ سوز او ګداز د
نازک خیالۍ په سِتن کښې د پښتو ادب
يو هغه څلي شاعر دی چې په ادبي دنیا
کښې موشګاف وګڼلي شي لکه بیا غلي پیر محمد کاکړ
وائي چې:

Highlight it to hit the psychy of the examiner

پس له دوه موشګاف عبد الحمید دے
چې يې اووي سره نازک نکته دان شعر

د حمید ماشوخیل زیاته شاعري په مینه کښې د سوز ګدازو
او لمبه کښیږو په باره کښې ده. هغه به په تخیل
هول وغه وړد د الفاظو په نفاست او
باریکۍ پیژانسته کړې دے او چې توک
د ده دغه اشعار لولي نو هډ وڅوند او سره
ورکوي - اوس د حمید بابا د شعرونو نمونې
وړاندې کوو او ګورو چې دوی د سوز او ګداز
کیفیت د نازک خیالۍ او تشبیهاتو په ژبه
څه رنګ ظاهر کړي دي -

ډیرو اوښکو ئي صورت له بوسه پریښوت
څنګه زر به پلو کړي دا دیوال د ډیره نمه

په د شعر کښې شاعر د نازک خیالۍ او
تشبیهاتو بهترین استعمال کړے دے او د ځپل غم
او تباهۍ اظهار ئې کړے دے۔ شاعر وائي
لکه څنګه چې د غم دیوال لاندې اوبه وي
او د دې اوبو او نمې له وجې ډېر
امکان وي چې دا دیوال چې په ښکاره
مضبوط ښکاري ډېر زر پرېوځي، هم دغه شان
د یار په غم کښې چې زما ګنې او ښکلي ځېږي
نو دغه اوښکو مې دا وجود کمزورې کړے
دے او قوي امکان دے چې ډېر
زر به د یار په غم کښې ختم شم۔

e لکه سر د پسه په اور غاښونه سپین که
کسي ما لره د غمه خندا راله

دا یو بل شعر دے چې د حمید بابا
د نازک خیالۍ او تشبیهاتو شاهکار دے۔
دا شعر هم په مینه کښې د وجود د خرابېدو
او بربادېدو خبره کوي۔ حمید بابا وائي
چې لکه څنګه د څخولو دپاره د اور دپاسه
ږوړند کړے شي نو د اور د ګرمۍ او تپ
له وجې د پسه غاښونه وسوزي
او داسې ښکاري لکه چې خاندي
څنګه چې صرف غاښونه ئې پاتې وي چې

ښېين ګلېکي - هم دغه شان که زۀ په
خدا ښکارم يا خوشحاله ښکارم نو په اصل
کښې زۀ خاندم نه بلکې د يار د غمونو لمبو
مې دځ سر ختم کړې دے او صرف
غاښونه مې دځ کښې ښکاري -

e

خط په مخ د صنم داغے، که سیوري مې شوه په هاله کښې
دا ئې غاښ په شونډه کښې زيب کا، که ژاله شوه په لاله کښې

کښې رنګ سحر جادو کا، په نظر د شهلا سترګو
نه ئې سيال په هندوستان شته دے نه ثاني په بنګاله کښې

لکه ونښلي مرغۍ به سس دام د سلو لومو
کښې رنګ پرېشانه زلو کنبو اليستم په کشاله کښې

دا زما له غمه شين زړه په کښې خيال د يار د شونډو
کښې رنګ زيب او زينت کا، لکه مې په شنه پياله کښې

سرتښ پياله غم د هجر لکه مې سورې سوري کړم
ځکه يم مدام دا سې په فرياد او په ناله کښې

که يار غواړې هوره ځاره تو درځي عبدالحميد صه
دا په دا چې دړ مونده شي، په دراب، نه په ناله کښې

___/___/202     Day: ______

دا شعرونه په صحیح معنو د حمید بابا د نازک خیالۍ
په ژبه کښې د دغه ده سوز او ګداز عکاسي کوي۔
د هر لو شعر بېله بېله تشریح په راتلونکي پوښتنه
کې هم شوې ده۔

په وړومبي شعر کښې شاعر د خپل جانان
صفت کوي او د دغه تشبیه د سپوږمۍ سره او
د دغه د زلفو تشبیه د ورېځو سره ورکوي۔ په
بله مصرعه کښې د دغه نسبت د ګل لاله سره کوي
او د دغه شنا غوږلو ته کلمه وائي۔ غرض دا چې
وائي چې زما د صنم مخ په خط داسې ښکاري
لکه سپوږمۍ چې په ورېځو کښې پټه شي او
سپین عارضونه ئې په سور مخ داسې ښکاري لکه
په ګل لاله کښې چې کلمه نښتې وي۔

په دویم شعر کښې د خپل جانان د تورو
سترګو صفت ئې په دا ډول کوي چې زما
د اشنا تورې سترګې داسې جادوګرې دي
چې د هندوستان او بنګال جادو ئې هم
په مقابله کښې نه دي۔

په دریم شعر کښې خپل تکلیف د نازک
خیالۍ په ښکلترین الفاظ کښې بیانوي۔ وائي چې
د خپل یار تورو زلفو داسې ګیر کړی یم لکه یوه
مرغۍ چې د ښکاري په لوس دام کښې ګیره

___/___/202 Day:______

شي چې د ګېږېدو طمع يې هم نه وي۔ په دې شعر
کښې شاعر د يار د زلفو تشبيه د دام سره او
خپله تشبيه د يو ساده مرغه سره ورکړې ده۔

په څلورم شعر کښې حميد بابا د خپل زړه
حالت بيانوي چې د غم د لاسه شين دے:
نو په دغه شين زړه کښې د يار د شونډو
خيال داسې ښائسته ښکاري لکه شراب
چې په شنه پياله کښې ښائسته ښکاري۔ مطلب
دا چې د يار غم په تکليف کښې کړې يم خو بيا هم
د يار حسن چې په خيالونو کښې داسې پروت دے
چې ما خوشحاله اور مطمئن ساتي۔

په پينځم شعر کښې حميد بابا د نازک خيالۍ
يو خوندوره نمونه پيش کړې ده۔ وائي چې
زما د الفاظ او خبرې چې خوږې ښکلي نو دا په
حقيقت کښې زما فرياد دے چې غمونو سوري
کړې يم۔ ځکه چې د شپېلۍ د سوري نه
ښائسته او زړه پورې اوازونه راوځي کوم دغه
شان زما ښائسته شعرونه که خوږه دي
نو ځکه چې د جانان غمونو سوري سوري کړے
يم۔

په آخري شعر کښې عبدالحميد بابا د
خپل يار د حالونو يو امېد خپله ژړا

ښودلې ده - حمید بابا وائي چې که څرنګه غواړې
چې یار زما شي او زما سنګ له راشي نو
د ګڼي واحد حل دا دیے چې د خلکو په
مجلسي په لوغه پسې ځاېږه او فریاد ورپسې
کوه - خان د اوښکو په سمندر لاهو کړه
او د غم او فریاد نورلو حد عبور کړه ځکه
چې موتي په ناله کښې نه وي بلکه
دریاب کښې ملاویږي - مطلب دا چې د
قیمتي څیز په اسانه نه ملاویږي بلکه
د ګڼي ډیره سترې او خوارۍ لګار ده.

مختصر دا چې عبدالحمید بابا خپل غم او
درد د تشبیهاتو او نازک خیالۍ په شکل
په ښائسته انداز ظاهر کړے دے - دا
په صحیح توګه د پښتو د بېدل کردار ادا
کړے دے او په پښتو شاعرانو کښې ئې
یو ځانګړے قوم پیدا کړے دے - خدائے دې
کې چې پښتانه د حمید بابا د پښتو ادب
ډیره د خدمات معترف اوسي. آمین